د ماشومتوب معمول واکسینونه

واکسینونه د حدي او ژوند ګواښونکو ناروغیو په وړاندې ستاسو د ماشوم د ساتنې یوه مهمه لاره ده.

د ماشومتوب د واکسینونو ګټې

- واکسینونه هر کال په نړۍ کې د 3.5 څخه تر 5 میلیونو مړینو مخنیوی کوي او له لسیزو را په دې خوا کارول کیږي.
- د ماشومتوب واکسینونه د واکسین مخنیوي وړ 15 ناروغیو په وړاندې ستاسو ساتنه او حفاظت کوي.
- د ماشومتوب د واکسینونو مهال ویش ددې لپاره جوړ شوی دی چې د ژوند په لومړیو کلونو کې مخکې له دې چې ماشومان د واکسین په مخنیوي وړ جدي او ژوند ګواښونکو ناروغیو اخته شي، معافیت رامنځته کوي. ځینې واکسینونه د بشپړ حفاظت د تامینولو لپاره باید له یو ډوز څخه ډیر ډوزونه واخیستل شي.
- واکسینونه د بدن په ساتنه او حفاظت کې مرسته کوي.

د واکسین خوندیتوب

- د واکسین اخیستل د هغو ناروغیو په پرتله خوندي دي چې واکسین د هغې په وړاندې ستاسو حفاظت کوي.
- په کاناډا کې ټول واکسینونه له کاروني مخکې د کتنې او ارزونې له یوې پروسې څخه تیریږي چې خوندیتوب، اغیزمنتوب او کیفیت یې ارزول کیږي. واکسینونه له کارولو وروسته په دوامداره توګه څارل کیږي ترڅو خوندیتوب او اغیزمنتوب یې یقیني شي.
- د واکسین له اخیستلو وروسته معتدل جانبي عوارض عام دي. په دې جانبي عوارضو کې د بدن ناآرامي، معتدله تبه، معتدل درد، د واکسین د تطبیق د ځای پړسوب او سوروالی شامل دي. دا جانبي عوارض موقت او لنډمهاله دي او د اندیښنې وړ نه دي. دا ستاسو د ماشوم بدن دی چې د معافیت غبرګون رامنځته کوي چې د عفونت په وړاندې د هغې په ساتنه کې مرسته کوي.

که ستاسو ماشوم په خپل وخت واکسین اخیستی نه وي

- که ستاسو ماشوم په خپل وخت واکسین اخیستی نه وي، تاسو اوس هم کولی شئ چې واکسین تطبیق کړئ. خپل ډاکټر ته خبر ورکړئ او په ګډه کار وکړئ ترڅو خپل ځان د واکسینو له مهال ویش سره

که د واکسینو په اړه پوښتنه لرئ، له یو ډاکټر سره خبرې وکړئ یا Canada.ca/childhood-vaccines انټرنیټي پاڼې ته ورشئ.

په کاناډا کې د حقوقي چارو مسؤل اعلیحضرت پادشاه د عامې روغتیا د ادارې په استازیتوب، 2025 ©
Pub: 240941 | Cat: HP40-358/2025Pus-PDF | ISBN: 978-0-660-76177-0